
# د اخرت د سفر توښه ځان سره واخله

## 15 Shab-e-Barat 1446H



د شبِ براءت اجتماع بیان

(For Islamic Brothers)

د شبِ براءت اجتماع بیان

پۀ 13 فروری، کال 2025ء (15 شَعبَانُ الـمُعَظَّم، کال 1446ھ)( د جُمعي په شپه)

# د اخرت د سفر توښه ځان سره واخله

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خختي نصیحت
- بدن سلامت ساتلو والا اعمال
- د دُنیا مثال د شلیدلې کپړې پۀ شان دے
- د قبر د وحشت نه بچ کوونکي 8 اعمال

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

تجاویز و شکایات

+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

**نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف** (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اربعین عطّار، قسط: 2، پۀ صفحه: 28، حدیثِ پاک نمبر: 28 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

اِنَّ لِلّٰهِ مَلَكًا لَهٗ جَنَاحَانِ اَحَدُهُمَا بِالْمَشْرِقِ وَالْاٰخَرُ بِالْمَغْرِبِ فَاِذَا صَلَّى الْعَبْدُ عَلَيَّ حُبًّا اِنْغَمَسَ فِي الْمَاءِ ثُمَّ يَنْتَفِضُ فَيَخْلُقُ اللهُ مِنْهُ كُلِّ قَطْرَةٍ مِنْهُ مَلَكًا يَسْتَغْفِرُ لِذٰلِكَ الْمُصَلِّي عَلَيَّ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ۔

ترجمه: د الله پاک یوه فرښته ده د کوم یو وزر چې پۀ مشرق کښې دے او بَل پۀ مغرب کښې۔ چې کله څوک پۀ ما باندې د محبت سره دُرُود رالیږي هُغه فرښته پۀ اوبو کښې غوپه وهي او خپلې وزرې څنډي، الله پاک د هغۀ د وزرو نه د څڅیدونکي هر یو څاڅکي نه یوه فرښته پیدا کوي هُغه فرښتے تر قیامته پورې د هُغه دُرُود لوستونکي د پاره اِستغفار کوي۔ (1)

1 ...القول البدیع، صفحه:122۔

نامِ حضرت پہ لاکھ بار درود | بے عدد اور بے شمار درود
ہم کو پڑھنا خدا نصیب کرے | دم بدم اور بار بار درود
جو مُحِبِّ نبی ہے اے کافیؔ! | چاہیے اس کو بار بار درود[1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔[2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د جُمعې شپه هم ده او د دې سره سره شبِ بَراءَت هم دے۔ یعنی پهٔ ننیِ شپه کښې دا دوه فضیلتونه راجمع شوي دي، د جُمعې شپه هم د فضیلت والا شپه ده، پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: د جُمعې دشپې د شروع نه تر د شپې د ختمیدو پورې الله پاک پهٔ د دُنیا پهٔ اسمان باندې تجلي فرمائي اویوې فرښتې ته حکم کوي چې دا اِعلان کوي: ❀ شته څوک غوښتلو والا چې زهٔ هغهٔ ته ورعطا کړم

1... دیوانِ کافی، صفحہ:23۔

2... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

❁ شته څوک توبې والا چې زهٔ د هغهٔ توبه قبوله کړم ❁ شته څوک بخښنه غوښتونکے چې زهٔ هغهٔ اوبخښم- اے نیکۍ غوښتونکیه! (د نیکۍ پهٔ کار کښې) تادي وکړه او اے ګناه غوښتونکیه (د ګناه کولو نه) ځان وساته- (1)

یعني د هرې جُمعې پهٔ شپه خصوصي طور د ګناه پرېښودلو، د نیکو د کولو او د الله پاک پهٔ حضور کښې د حاضرېدو دعوت ورکولے شي- دغه شان د شبِ بَراءَت پهٔ باره کښې هم پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: چې کله د شعبان مینځنۍ (یعني پینځلسمه) شپه راشي نو پهٔ دغه شپه قیام (یعني عبادت) وکړئ! د ورځې روژه اونیسئ! بے شکه پهٔ دې شپه د نمر پرېوتو سره الله پاک د خپل شان مطابق د دُنیا پهٔ اسمان باندې تجلي فرمائي او ارشاد فرمائي:

❁ اَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ لِیْ فَاَغْفِرَ لَهٗ شته څوک زما نه بخښنې غوښتلو والا چې زهٔ هغهٔ معاف کړم

❁ اَلَا مُسْتَرْزِقٌ فَاَرْزُقَهٗ شته څوک رزق غوښتلو والا چې زهٔ هغهٔ ته رزق عطا کړم

❁ اَلَا مُبْتَلًی فَاُعَافِیَهٗ شته څوک پرېشانه چې زهٔ د هغهٔ پرېشاني ختمه کړم، شته څوک داسې، شته څوک داسې، د سحر کېدو پورې هُم داسې اِعلان کیږي- (2)

کِشتِ اُمّید پہ ہے فَضلِ خُدا آج کی رات | ہر طرف چھائی ہے رحمت کی گھٹا آج کی رات
کس قدر جوش پہ ہے حق کی عطا آج کی رات | پائیں گے سارے طلب سے بھی سِوا آج کی رات
مغفرت ڈھونڈتی پھرتی ہے گنہ گاروں کو | مہرباں کتنا ہے بندوں پہ خُدا آج کی رات
کوئی محروم نہ رہ جائے زمیں پر سائل | آسمانوں سے یہ آتی ہے صدا آج کی رات

1...كتاب النزول للدار قطنى، ذكر الراوية عن امير المؤمنين على...الخ، صفحه:92، حديث:3-

2...ابن ماجه، كتاب اقامة الصلاة والسنة فيها، باب ما جاء فى ليلة...الخ، صفحه:225، حديث:1388-

يو شاعِر ليکلي دي:

آئی شَبِ براءَت، یہ ہے برکتوں کی رات | لطف وکرم کی رات ہے، یہ رحمتوں کی رات
بارانِ فضل ہوتا ہے اس شب کو ہر گھڑی | خوش بخت ہے جسے ملی یہ عظمتوں کی رات
جو چاہتے ہو، تم کو کرے گا خدا عطا | اس کی عنایتوں کی ہے یہ نعمتوں کی رات
غم کا علاج آج کی شب دستیاب ہے | یہ جاں فزا ہیں ساعتیں، یہ فرحتوں کی رات
کر لو مرض کے واسطے رب سے دُعا ابھی | یہ ہے شفا کی رات، یہ ہے راحتوں کی رات
دامن بڑھاؤ مانگ لو خیراتِ مغفرت | اے عاصیو! ہے جلوہ نما رافتوں کی رات
راضی کرو تمام جو ناراض تم سے ہیں | صلح وصفا کی رات ہے، یہ قُربتوں کی رات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله باندې پۀ مونږ باندې داسې کرم دے---!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږ د ګنهګارانو د بخښنې د پاره بيا بيا موقعې راکولے شي ❁ شَبِ بَراءَت راغله، د نجات شپه ده، پۀ دې شپه باندې د بَنُو کلب (يعنې د عرب د ټولو نه زياتې چيلۍ ساتونکې قبيلې) د چيلو د ويښتو همره خلق د دوزخ نه ازادولے شي ❁ مخکښې به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف تشريف راوړي، پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف کښې پۀ زرګونو ګنهګاران بخښلے کيږي ❁ بيا به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! شبِ قدر تشريف راوړي، داسې د برکت والا شپه کومه چې د ماښام نه تر سحره پورې صرف سلامتي ده، پۀ دې کښې فرښتے راکوزيږي، د دې يوې شپې عبادت د زرګونو مياشتو د عبادت نه بهتر دے- هم داسې دا موقعې زمونږ د پاره راځي، يعنې زمونږ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمّتيانو د پاره د بخښنې او مغفرت دروازې پرانستې وي، کاش چې مونږه د دې موقعو قدر کوونکي جوړ شو، کاش چې د دې برکتي شپو پۀ صحيح معنو کښې

قدر وکړو، ربښتوني پخه توبه کړو او، ګناه پرېږدو، او نیکو ته ملا کلکه وتړو او د الله پاک د رحمت پهٔ حقدار جوړیدو کښې کامیاب شو۔

| | |
|---|---|
| مغفرت کا ہوں تجھ سے سُوالی | پھیرنا اپنے دَر سے نہ خالی |
| مجھ گنہگار کی التجا ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے |
| نارِ دوزخ سے مجھ کو اماں دے | مغفرت کر کے باغِ جِناں دے |
| کر دے رَحمت مری التجا ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے(1) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## د خختې نصیحت

علّامه قرطبي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه ډیر لوئي عالِمِ دِین تیر شوے دے، هغوئي یوه د سبق نه ډکه او ډیره عبرتناکه واقعه لیکلې ده، سترګې غړوونکې واقعه ده، لیکلي یې دي چې د مخکښینو اُمَّتونو خبره ده، یو ګس وو، د هغهٔ دوه زامن وو، مرګ خو به راځي ، یو وخت راغلو چې د هغهٔ د وفات کیدو وخت شو، هغهٔ پهٔ میراث کښې یو کور پرینښودلو۔ بیا خو عام طور داسې کیږي چې جوړولو والا کور جوړ کړي او لاړ شي، وروستو یې خلق پهٔ میراث باندې جګړې کوي (داسې نهٔ دي کول پکار، میراث پهٔ مینه او محبت د شریعت مطابق اخستل پکار دي)، د هٔغه ګس دواړه زامن پهٔ یو کور باندې پهٔ خپل مینځ کښې جګړه شروع کړه۔ چې کله هغوئي پهٔ خپل مینځ کښې جګړه کوله نو الله پاک پهٔ هٔغه کور کښې لګیدلې یوې خختې له د خبرو کولو طاقت ورکړو، خختې خبرې شروع کړې او اوئې وئیل: یَاهٰذَانِ فِیۡمَا تَتَنَازَعَانِ؟ اے دوو وروڼو! پهٔ کومه خبره باندې جګړه کوئ؟ (زما نه زما

---

1 ...وسائل بخشش، صفحه:136 ملتقطًا۔

قیصه واورئ!) زۀ یو بادشاه ووم، ډیر کلونه مې حکومت وکړو، بیا مرګ زۀ د فنا کور ته کوز کړم- (زما ښکلے مخ، ښکلې ښکلې سترګې، طاقتور وجود، مضبوطې مټې، زما هډوکي، غرض دا چې) زما وجود خراب شو او د خاورو سره میلاؤ شو- تر زرو [1000] کالو پورې زما خاوره برباده وه، بیا یو کولال (یعنې د خاورو نه لوښو جوړولو والا) زما د ښخ کړے شوي ځائے نه خاوره راواخستله، زما د وجود د خاورو نه یې یو جام جوړ کړو، بیا زما د وجود خاوره د جام پۀ شکل کښې استعمالیدله، بیا د ډیرو کلونو نه پس جام هم مات شو، خاوره بیا د خاورو سره خاورې شوه، بیا یو ګس د دې خاورو نه خختـه جوړه کړه او پۀ دې کور کښې یې ولګوله- چې انجام داسې دے نو بیا پۀ څۀ خبره باندې جګړه کوئ---؟ (1)

کہاں تختِ خُسرو! کہاں طاقِ کِسریٰ | محلِّ اِقامت کا اُن کے پتا کیا؟
ملے خاک میں سینکڑوں مسند آراء | نہ گورِ سکندر ہے نہ قبرِ دارا
مٹے نامیوں کے نشاں کیسے کیسے؟ | زمیں کھا گئی نوجواں کیسے کیسے؟

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د خاورو انجام هم خاورې دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! خومره د عبرت خبره ده ❀ مونږه تکبر کوو چې ❀ پۀ مټو کښې مو زور دے ❀ پۀ کوپړۍ کښې دماغ دې ❀ پۀ رګونو کښې مو وینه چلیږي ❀ خلق پۀ دې باندې غرور کوي ❀ لوئې لوئې خبرې کوي ❀ ډیرې غصې کوي ❀ پۀ غرور، تکبر، ځان خوښۍ وغیره پته نۀ لګي چې پۀ کومو کومو افتونو کښې انښلي ❀ چې آئینې ته مخامخ شي نو اخوا کیدل یې زړۀ نۀ غواړي ❀ هُم خپله سیلفي اوباسي

1 ... التذکرة للقرطبی، باب ما جاء ان للموت سکرات، صفحه:24۔

او بیا بیا پهٔ کتلو یې زړهٔ نهٔ مړیږي، آه! زر--!! ډیر زر به ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام تشریف راوړي، ساه به ودریږي، رُوح به پهٔ جټکې سره ووځي، اخري سلګۍ به راشي، سترګې به د چت پهٔ لور وي او مونږه به مړه شو، آه! مونږ ته معلومه نهٔ ده چې زمونږه خاوره به چرته ځي، کومه یوه هوا به زمونږه خاوره الوځوي او چرته به یې وړي--؟ حضرت بابا فرید ګنج شکر رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ډیر لوئي وَلِيُّ الله تیر شوے دے، هغوئي به پهٔ پنجابۍ ژبه کښې د نصیحت نه ډک شعرونه هم وئیل، بابا فرید رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ مونږه پوهه کوي او فرمائي:

ویکھ فریدا...!! مِٹّی کھلّی | مِٹّی اُتّے مِٹّی ڈُلّی
مِٹّی ہَسّے، مِٹّی رَوْوَے | اَنْتْ مِٹّی دَا مِٹّی ہَوْوَے
نَہ کَر بَنْدِیا مَیْری مَیْری | نَہ تَیْری نَہ مَیْری
چار دِنَاں دَا مَیْلَہ دُنیا | فَیْر مِٹّی دِی ڈھیرِی

وضاحت: یعنې اے فریده--!! وګوره چې د خاورو قبر وکنستلے شو، د خاورو بنده هغه قبر ته کوز شو، د خاورو پهٔ مړي باندې خاورې واچولے شوې، آه! دا هُم د خاورو نه جوړ بنده دے کوم چې د خوشحالۍ نه پهٔ جامو کښې نهٔ ځائیږي، د غم پهٔ وخت ګیلې کوي، ژاړي، شور او غوغا کوي خو--!! افسوس چې بنده څهٔ هم وکړي، د خاورو انجام هم خاورې دے- اے بنده! زما زما مهٔ کوه! زما زمکه، زما مال، زما جائیداد، زما کاڼے، زما عزت، زما ژوند وغیره وغیره خبرو کولو سره تکبر مهٔ کوه، دا دُنیا او د دې ځائے هر څهٔ نهٔ ستا دي نهٔ زما دي، **دا دُنیا د څلورو ورځو ده، اخر به د خاورو ډیرے یعنې قبر به جوړ شي او هر څهٔ به ختم شي-**

الله پاک دې زمونږه خاوره محفوظ کړي! راځئ چې دُعا وکړو:

مٹی نہ ہو برباد پسِ مرگ الٰہی | جب خاک اُڑے میری مدینے کی ہوا ہو

کاش چې دا سعادت مو نصيب شي، د مرګ نه پس چې کله قبر ته کوز شو نو زمونږه خاوره برباده نشي، کاش چې د مدينے منورې هوا راشي او زمونږه خاوره د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ښيو کښې واچوي-

## د قيامت په ورځ باندې به راپاڅولے شي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دُنيا چې مونږ ته نن ښکاره په نظر راځي، وچه زمکه د فلانکي ځائے نه تر فلانکي ځائے پورې ده، په فلانکي ځائے کښې درياب دے، په فلانکي ځائے کښې سمندر دے ❀ کيدے شي چې په زرګونو کاله مخکښې دا داسې نۀ وه ❀ دلته پته نۀ لګي چې څوک څوک دفن دي ❀ څومره داسې دي د کومو چې هډو نخښې هم نۀ دي پاتې، آه! ډير زر مونږ ته هم د دې دُنيا نه تلل دي ❀ د نن نه يو دوه صدۍ پس به زمونږه هم نوم او نشان هم نۀ دي ❀ ممکن ده چې زمونږه د قبرونو نخښې هم ورانې شوې وي ❀ کيدے شي چې سل [100] کاله پس زمونږه په کورونو کښې زمونږ په ځائے نور څوک استوګنه کوي ❀ زمونږه جائيدادونه به د بَل چا په نوم وي، لکه څنګه چې نن فرض کړئ ❀ زمونږه ډېر نيکه، غور نيکه وغيره که دُنيا ته واپس راشي نو هغوئ به مونږه اونه پيژندے شو ❀ داسې به زمونږه کړوسي وغيره مونږه نۀ پيژني ❀ داسې به زمونږه شکلونه زمونږه د راتلونکو نسلونو په ګمان کښې هم نۀ وي، آه! مرګ به راځي، د قبر ډيرے به جوړيږي، بيا به په ورو ورو هواګانې د هغه قبرونو نخښې هم ورانې کړي- د دې نه ډيره د عبرت خبره دا ده چې قيصه دلته ختمه نۀ شوه، د قيامت په ورځ باندې به الله پاک دا خورۀ ورۀ خاوره راجمع کړي او بيا به مړي راژوندي کړي، بيا به هر يو ته د خپلو اعمالو حساب ورکول وي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ
(پاره:26، سورۂ ق:4)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: [الله فرمائي] مونږ ته معلوم دي کوم څۀ چې زمکه د هغوئي نه کموي۔

يعنې د مړو د وجود چې کومې حصې، غوښه، وينه او هډوکي وغيره زمکه وخوري، پۀ هغې کښې يو څيز هم د الله پاک نه پټ نۀ دے، الله پاک ته د هغوئي د وجود د هرې يوې حصې پۀ باره کښې پته ده چې د هغوئي د وجود کومه يوه حصه خورۀ شوه او چرته لاړله، پۀ کوم يو څيز کښې ميلاؤ شوه، الله پاک ته د دې هر څۀ عِلم دے، د قيامت پۀ ورځ باندې به دا خورۀ شوې خاوره بيا راجمع کړي او وجود به ترينه جوړ کړي او رُوح به پکښې واچولے شي او ژوندے به کړے شي۔ (1)

## يو هډوکے باقي پاتې کيږي

پۀ حديثِ پاک کښې دي: د انسان ټول وجود به خاورې شي، خو د ملا د تير يوه حصه (کومه چې په خوردبين(مائيکرواسکوپ)هُم په نظر نه راځي هغې ته عَجَبُ الذَّب وئيلے شي دابه) نۀ خاورې کيږي، د دې نه به د قيامت پۀ ورځ مخلوق بيا جوړولے شي۔ (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک د قُدرتونو والا دے، دا زمکه، اسمان، سپوږمۍ، نمر، ستورې، ونې وغيره هر څۀ هغۀ جوړ کړي دي، هغۀ د دوئي پۀ جوړولو باندې بيا هم قادِر دے، مونږ مخکښې نۀ وو، هغۀ مونږ پيدا کړو، بيا به مونږ فنا شو، فنا کول هم هغۀ کوي، هغه د قدرتونو والا رِبّ کريم پۀ بيا راژوندي کولو باندې هم قُدرت لري۔

## انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام ژوندي دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته دا خبره پۀ ذِهن کښې کښينوئ چې انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام

---

1...صراط الجنان، پاره:26، سورۂ ق، زيرِ آيت:4، جلد:9، صفحه:456۔

2...بخاری، کتاب التفسير، باب يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا، صفحه:1271، حديث:4935۔

ځغه د اوچتې مرتبې والا هستیانې دي چې د هغوئې پاکو بدنونو ته زمکه هیڅ نقصان هم نشي رسولے- پۀ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَآءِ یعنې بے شکه الله پاک د نبیانو وجودونو ته نقصان رَسَوَل پۀ زمکه باندې حرام کړي دي- (1) پۀ یو حدیثِ پاک کښې دي: اَلْاَنْبِيَآءُ اَحْيَآءٌ فِیْ قُبُوْرِهِمْ يُصَلُّوْنَ یعنې انبیائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام پۀ خپلو مزارونو کښې ژوندي دي، نـمونځونه ادا کوي- (2)

اِمامِ اهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

انبیاء کو بھی اَجَل آنی ہے | مگر ایسی کہ فَقَط آنی ہے
پھر اسی آن کے بعد اُن کی حیات | مثلِ سابق وہی جسمانی ہے

**وضاحت:** یعنې یقیناً چې د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام پۀ بارګاه کښې هم مرګ حاضري وکړه خو د هغوئې مرګ صرف د لږ سعت د پاره دے، د هغې نه پس بیا هغوئې ته هُم د مخکښې پۀ شان ژوند عطا کولے شي-

## وَلِي هم ژوندےوي

د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام پۀ وسیله نور هم ډیر خوش قِسمته دي د کومو وجودونو ته چې زمکه نقصان نۀ رسوي- مثلاً ❁ د اولیائے کرامو مبارک وجودونه پۀ قبرونو کښې سلامت وي، **پۀ ترمذي شریف کښې دي:** د مخکښینو اُمَّتونو یو وَلِیُّ الله کوم چې د زماني بادشاه شهید کړے وو، د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پۀ خلافت کښې د هغوئې قبر کولاو شو، خلقو پۀ خپلوسترګو باندې ولیدل چې د هغوئې پاک وجود بالکل صحیح سلامت وو، د شهید کیدو پۀ وخت چې هغوئې پۀ زخم باندې کوم

1... ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة...الخ، باب فی فضل الجمعة، صفحه:177، حدیث:1085۔

2... مسند بزار، جلد:13، صفحه:299، حدیث:6888۔

لاس کیښودے وو، هغه هم هُغه شان پروت وو، لاس چې لرې کړے شو نو د وجود نه تازه وینه روانه شوله- (1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې اولیائے کرام هم په خپلو مزارونو کښې ژوندي وي، د هغوئي وجودونه هم په قبر کښې سلامت وي-

## وجود سلامت ساتونکي اعمال

دغه شان په حدیثِ پاک کښې دي: ✿ د ثواب په خاطِر اذان کوونکے په وینه کښې د لَت پت شهید په شان دے، د دهٔ قبر ته به چینجي نهٔ راځي ✿ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي چې کله حافظِ قرآن وفات شي نو الله پاک زمکې ته حکم وکړي چې د دهٔ غوښه مهٔ خوره- زمکه عرض کوي: اے زما رَبَّه! زهٔ د دهٔ غوښه څنګه خوړلے شم چې ستا کلام د دهٔ په سینه کښې دے- (2)

کاش چې زمونږه هم دا سعادت نصیب شي- کاش چې په قبر کښې زمونږه وجود محفوظ پاتې شي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## انسان به نهٔ پریښودے کیږي---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه دُنیا ته راغلو، لازمي به ترینه واپس هم ځو، زمونږه د خاورو وجود به یوه ورځ بیا د خاورو سره خاورې شي، اګر که وجود خاورې شي او د خاورو سره خاورې شي، هوا خاوره والوځوي او اخوا دیخوا یې یوسي، د دې مطلب دا هیڅکله هم نهٔ دے چې مونږ به بالکل هیر کړے شو، داسې به ېږو چې لکه مونږه هډو دُنیا ته نهٔ ېږو راغلي، داسې نهٔ ده، مونږه چې نن دلته کومې ساه کانې اخلو، څهٔ څهٔ اعمال

1...ترمذی، کتاب تفسیر القران، باب ومن سورة البروج، صفحه:771770، حديث:3340-

2...فردوس الاخبار، جلد:1، صفحه:168، حديث:1119-

مونږ کوو، که زمونږه وجود په قبر کښې دننه وي او که هوا مو خاوره باد کړي او خورۀ يـې کړي، چې چرته هم يو، د برزخ معامله هم هلته ده، هُم په هُغه حال کښې به جاري وي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمِنْ وَّرَآىِٕهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ۝۱۰۰ (پاره:18، سورۀ مؤمنون:100) | ترجمۀ كنزُ العِرفان: او د هغوئي مخې ته يو بند [رُکاوټ] دے د هُغې ورځې پورې په کومه ورځ به چې هغوئي راپاڅولے کيږي- |

يعنې د مرګ نه واخله تر د قيامت د ورځې پورې موده بَرزَخ دے ❀ که څوک ازمري وغيره ځناور وخوړلو نو دغه به د هغۀ قبر شميرلے کيږي ❀ که څوک په سمندر کښې ډوب شو نو هُم دغه به قبر ګڼلے شي ❀ غرض دا چې د مرګ نه پس چې انسان هر چرته هم دے ❀ په کوم حالت کښې هم دے، الله پاک دا قُدرت لري چې هغۀ له د هغۀ د اعمالو جزا يا سزا ورکړي او د جزا يا د سزا دا معامله بالکل حق او رښتيا ده- (1)

| | |
|---|---|
| آخرت کی فکر کرنی ہے ضرور | جیسی کرنی،ویسی بھرنی ہے ضرور |
| عمر اک دن یہ گزرنی ہے ضرور | قبر میں میت اترنی ہے ضرور |

## په صندوق کښې وور بَل شو

وئيلے کيږي چې يو بادشاه وو، چې کله د هغۀ اخري وخت راغلو نو هغۀ خپل زامن راوغوښتل او يو عجيبه وصيت يـې ورته وکړو، اوئې وئيل: چې کله زۀ مړ شم نو د اوسپنې يو تابوت جوړ کړئ، بيا زما مړے په هُغه تابوت کښې کيږدئ او د اوسپنې په يو صندوق کښې يـې کيږدئ، بيا هُغه صندوق مۀ دفن کوئ بلکې په يوه کمره کښې يـې په چت

1...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:112111، حصّه:1 بتصرف قليل-

پسې زوړند کړئ چې زۀ د قبر د عذاب نه بچ شم (یعنې د هغۀ مقصد وو چې نۀ به زۀ قبر ته کوزیږم، نۀ به د هُغه تنګ ځائے او وحشت سره مخ کیږم او نۀ به پۀ قبر کښې عذاب خورم)-

زامنو یې پۀ وصیت باندې عمل وکړو، چې کله بادشاه وفات شو نو د اوسپنې تابوت جوړ کړے شو، د هغې دننه د بادشاه مړے کېښودے شو او هُغه تابوت د اوسپنې پۀ یو غټ صندوق کښې کېښودے شو، بیا هُغه صندوق د زنځیرونو وغیره پۀ ذریعه پۀ کمره کښې زوړند کړے شو او کمره ورپسې بنده کړے شوه- بیا چې کله شپه شوه نو ناڅاپه د کمرې نه اوازونه راتلل شروع شو، زامنو یې د کمرې طرف ته منډې کړې، چې دروازه یې برسیره کړه او اوئې کتل نو صندوق خوزیدو، هغوئې صندوق ښکته راکوز کړو، چې برسیره یې کړو او اوئې کتل نو حیران پاتې شول چې د صندوق دننه تابوت دے، د هُغه تابوت دننه د بادشاه د مړي د پاڅه یو خطرناک مار ناست دے او د هغۀ مخ له ټکونه ورکوي، (پۀ ظاهره ډیره د حیرانتیا خبره وه چې صندوق ته د دننه تللو د پاره څۀ لاره یا څۀ سورے نۀ وو، بیا هم مار دننه څنګ لاړو--!! بهر حال!) د بادشاه زامنو هُغه مار رابهر کړو او مړ یې کړو، صندوق یې بیا بند کړو او د مخکښې پۀ شان یې پۀ کمره کښې زوړند کړو-

دغه شپه خو چې هر څنګه وه تیره شوه، پۀ بله شپه بیا د کمرې نه اوازونه راتلل شروع شو، زامنو یې بیا کمره برسیره کړه، چې اوئې کتل نو صندوق خوزي، صندوق بیا راکوز کړے شو، بیا یې چې برسیره کړو نو د مخکښیني نه هم غټ مار د بادشاه پۀ سینه باندې ناست وو، ډیر حیران شول، هغوئې بیا هُغه مار رابهر کړو او مړ یې کړو، صندوق یې بیا بند کړو او زوړند یې کړو-

هُغه دویمه شپه چې هم که هر څنګه وه نو تیره شوه- دریمه شپه شوه، د کمرې نه بیا اوازونه راتلل شروع شو، زامنو یې بیا دروازه برسیره کړه، صندوق یې راکوز کړو او چې

هغه يـې برسيره کړو نو (د ويرې د وجهې هغوئي ډير حيران شول چې) د اوسپنې صندوق دے، د هغې دننه يو تابوت دے، د بهر نه صندوق بالکل صحيح سلامت دے خو د هُغه تابوت دننه خطرناک وور بَليږي- دا خطرناک منظر يـې چې اوليدو نو هغوئي پوهه شول چې د قبر د عذاب نه هيڅکله هم خلاصے نشته، نو هغوئي د بادشاه مړے باقاعده په قبر کښې ښخ کړو- (1)

| | |
|---|---|
| بحرِ غفلت یہ تیری ہستی نہیں | دیکھ جنّت اس قدر سستی نہیں |
| راہ گزر دنیا ہے یہ بستی نہیں | جائے عیش و عشرت و مستی نہیں |

ایک دن مرنا ہے، آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے، آخر موت ہے

| | |
|---|---|
| ہو رہی ہے عمر مثلِ برف کم | چپکے چپکے، رفتہ رفتہ، دم بدم |
| سانس ہے اک راہ روئے ملکِ عدم | دفعتا اک روز یہ جائے گا تھم |

ایک دن مرنا ہے، آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے، آخر موت ہے

| | |
|---|---|
| ہے یہاں سے تجھ کو جانا ایک دن | قبر میں ہو گا ٹھکانہ ایک دن |
| منہ خدا کو ہے دکھانا ایک دن | اب نہ غفلت میں گنوانا ایک دن |

ایک دن مرنا ہے، آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے، آخر موت ہے

| | |
|---|---|
| آخرت کی فکر کرنی ہے ضرور | جیسی کرنی،ویسی بھرنی ہے ضرور |
| عمر اک دن یہ گزرنی ہے ضرور | قبر میں میت اترنی ہے ضرور |

ایک دن مرنا ہے، آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے، آخر موت ہے

1 ...سلوة العارفين، جلد: 2، صفحه: 231۔

# عالَمِ برزخ د دُنيا د ژوند نتيجه ده

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په عالَمِ برزخ کښې مونږ ته تر قيامته پورې اوسيدل دي، هلته به د هر چا ځائے د هغهٔ په دُنيا کښې د کړو اعمالو مطابق وي، څوک چې په دې دُنيا کښې ديندار دے، هغهٔ ته به د برزخ په ژوند کښې ❀ عزت ❀ عظمت ❀ او سکون او راحت عطا کولے شي او څوک چې په دې دُنيا کښې ګنهګار دے ❀ نـمونځونه قضا کولو والا دے ❀ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژو پريښودلو والا دے ❀ د مور پلار تنګولو والا دے ❀ مسلمانانو ته تکليف رسولو والا دے ❀ ګيره خريلو والا يا د يو موټي نه کمولو والا دے ❀ د سود لين دين کولو يا په اخستو او خرڅولو کښې دوکې کولو والا دے، د برزخ په ژوند کښې به د هغهٔ حال ډير خراب وي، آه! که د الله پاک د رحمت نه محرومه پاتې شو نو په قبر کښې وور هم بليدے شي، ماران لړمانان پکښې هم ډِيره کيدے شي، زمونږه دا بنکلے وجود د چينجو خوراک هم جوړيدے شي- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا (پاره:16، سورهٔ طٰهٰ:124) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چا چې زما د ذِکر نه مخ واړولو نو بے شکه د هغهٔ د پاره تنګ ژوند دے- |

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: په دې آيت مبارک کښې د تنګ ژوند نه مُراد د قبر عذاب دے- يعنې ❀ څوک چې په دې دُنيا کښې ګنهګار دے ❀ څوک چې د الله پاک د ذِکر نه ❀ د قرآن او سُنَّت نه ❀ د نيک کارونو نه ❀ د نـمونځ روژې نه مخ اړوي، د هغهٔ د پاره به په قبر کښې تنګ ژوند وي-

# د قبر وحشت ناک اواز

حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د يوې جنازے سره روان وو نو خلق مخکښې لاړل او هغوئي شاته پاتې شول- خلقو جنازه کيښودله او د هغوئي انتظار يې کولو چې کله هغوئي راورسيدل نو چا ترې تپوس وکړو! اے اميرُ الْمُؤمِنين! تاسو چرته ايسارشوي وئ؟ اوئې فرمائيل: آؤ! اوس يو قبر ما ته اواز وکړو او اوئې وئيل: اے عمر بن عبد العزيزه! زما نه پوښتنه ولې نۀ کوې چې زۀ ما ته د راتلونکو سره څۀ سلوک کووم؟ ما هغۀ ته ووئيل: ما ته ضرور ووايه- هغۀ ووئيل: ❀ زۀ د دۀ کفن شلووم او بدن ورله ټوټې ټوټې کووم ❀ د دۀ وينه څښم او غوښه يې خورم ❀ آيا تۀ زما نه پوښتنه نۀ کوې چې زۀ د دۀ د جوړونو سره څۀ کووم؟ ما ووئيل ضرور ووايه- اوئې وئيل: زۀ لاس د ورغوي نه، ورغوي د مړوندونو نه، مړوندونه د متو نه، متې د اوګو نه، د ناستې ځائے د ورنانو نه، ورنان د زنګونانو نه، زنګونان د پنډو نه، پنډۍ د ښپو نه جدا کووم- د دومره وئيلو نه پس عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پۀ ژړا شو بيا يې وفرمائيل: واورئ! د دې دنيا ژوند ډير کم دے کوم ګنهګار چې پۀ دې دنيا کښې عزت والا دے پۀ اخرت کښې به ذليله او رسوا وي، څوک چې مالداره دے پۀ اخرت کښې به غريب وي، د دې ځوان به بوډا شي او ژوندے به مړ شي، لهذاستاسو طرف ته د دنيا راتلل تاسو له دوکه درنکړي ځکه تاسو ته معلومه ده چې دا ډيره زر رخصتيدونکې ده- پۀ دوکه کښې راګيريدونکے هم هغۀ دے کوم چې د دې نه دوکه وخوري- چرته لاړل پۀ دې کښې اوسيدونکې؟ کومو چې ښارونه اباد کړل، نهرونه يې ويستل او وَنې يې زرغونې کړې، خو پۀ دې کښې يې ډيره لږه موده ژوند وکړو- هغوئي روغ صحت پۀ دوکه کښې اخته کړل او چستۍ مغروره کړل نو پۀ ګناهونو کښې اخته شول- پۀ خدائے مې دې قسم وي! د هغه مال پۀ وجه پۀ دوئي حيرانتيا ده کوم چې

دوئي ډير د کنجوسۍ نه پس حاصل کړو او د دې د جمع کولو پۀ وجه د دوئي سره حسد کولے شي- سوچ وکړئ چې خاورو او شګو د دوئي د بدنونو سره څۀ وکړل؟ د قبر چينجو د دوئي د هډوکو نه څۀ جوړ کړل؟ دوئي به پۀ دنيا کښې پۀ خوشحالۍ او سکون سره اوسيدل، پۀ نرمو بسترو به سملاستل، نوکرانو به د دوئي خدمت کولو، کور والؤ به د دوئي عزت او ګاونډيانو به د دوئي ملاتړ کولو- که تاسو دوئي ته غږ کولے شۍ نو ضرور دوئي ته غږ وکړئ او که دوئي رابللے شۍ نو ضرور يې راوبلئ- د دې مړو د لښکر پۀ خوا چې تاسو تيريږئ نو پۀ کومو کورونو کښې چې به دوئي پۀ عيش او عشرت سره اوسيدل د هغې ګير چاپيره نظر وکړئ- د دې د مالدارانو نه پوښتنه وکړئ چې ستاسو سره څومره مال پاتې دے؟ د دې د غريبانانو نه پوښتنه وکړئ چې ستاسو فقر [يعنې غريبي] څومره پاتې دہ؟ د دوئي نه د دوئي د ژبو پۀ باره کښې پوښتنه وکړئ پۀ کومو چې به دوئي خبرې کولې، د دوئي د سترګو پۀ باره کښې پوښتنه وکړئ پۀ کومو چې به يې بد نظري کوله- د دوئي نه پوښتنه وکړئ چې د نرۍ څرمنې، ښکلي مخ، د نرم او نازک بدن سره چينجو څۀ سلوک وکړو؟ چينجو د هغوئي رنګونه ختم کړل، غوښه يې وخوړله، مخونه يې خاورې کړل، ښائست يې ختم کړو، د ملا تير يې مات کړو او بدن يې ټوټې ټوټې کړو او جوړونه يې ذرې ذرې کړل- د دوئي نه پوښتنه وکړئ چې ستاسو خيمې او زنانه چرته لاړې؟ خدمت کوونکي چرته لاړل؟ غلامان چرته لاړل؟ جمع شوے مال او خزانې چرته لاړې؟ پۀ الله پاک مې دې قسم وي چې دوئي د قبر د پاره هيڅ تياري ونکړه، څۀ ملاتړ يې جوړ نکړو، د نيکۍ ونه يې هم ناله نکړه، د قبر د سکون د پاره يې هيڅ اونه ليږل- آيا اوس دوئي يواځې او پۀ شاړو کښې نۀ دي پراتۀ؟ آيا اوس د دوئي د پاره شپه او ورځ برابر نۀ دي؟ آيا اوس دوئي پۀ تيارو کښې نۀ دي؟ آؤ! اوس د دوئي او د دوئي د عمل پۀ مينځ

کښې خندۀ [یعنې رکاوټ] جوړ کړے شوے دے او د خپلو خپلوانو نه دوئي جدا شوي دي- د ځومره خوشحاله نارینوو او زنانوو حالت بدل شو، د دوئي مخونه خاورې شول، د دوئي بدن د دوئي د څټونو نه جدا شول، د دوئي جوړونه بیل بیل شول، د دوئي سترګې پۀ مخونو را اوبهیدلے، څُلې یې د وینې او نوونو نه ډکې شوې، د دوئي پۀ بدنونو کښې حشرات الارض (چینجي وغیره) ګرځي، اندامونه یې خوارۀ وارۀ جدا شول، پۀ الله پاک باندې مې دې قَسم وي! پۀ لږه موده کښې د دوئي هډوکي خراب شول، باغونه ترې پاتې شول، د فراختیا نه پس دوئي تنګ ځائے ته پریوتل، د دوئي کونډو ښځو نورې نکاح ګانې وکړې، اولاد یې پۀ کوڅو کښې در پۀ در دے، خپلوانو د دوئي کورونه او میراث تقسیم کړو- پۀ خدائے مې دې قسم وي! پۀ دوئي کښې بعضے هٰغه خوش قسمته دي د کومو قبرونه چې فراخه، ښکلي او تازه دي او هغوئي پۀ قبرونو کښې مزې کوي- اے سبا قبر ته ورتلونکي انسانه! تۀ د دنیا کوم څیز پۀ دوکه کښې وساتلې؟ آیا تۀ دا ګڼې چې تۀ به همیشه ژوندے یې یا دا دنیا به ستا د پاره همیشه باقي وي؟ ستا فراخه کور او ستا جاري شوے نهر چرته لاړو؟ ستا پخې میوې څۀ شوې؟ ستا نرۍ جامې، خوشبوئي او اغوستنه چرته ده؟ ستا د ګرمۍ او د یخنۍ د جامو څۀ وشول؟ آیا تا وفات کیدونکے اونه لیدلو کله چې هغۀ له مرګ راځي نو هغۀ د ځان نه ویره نشي لرې کولے، پۀ خوله کښې ډوب وي، د تندې نه ترټقي وهي او د مرګ د سختې او تکلیف پۀ وجه ډډې پۀ ډډې اوړي- د رَبّ د بارګاه نه حکم راغلے دے، د قسمت نۀ بدلیدونکې فیصله شوې ده او هٰغه حکم راغلے دے د کوم نه چې تۀ نه شې بچ کیدے- (بیا یې خپل ځان ته ووئیل) افسوس ډیر افسوس! اے د پلار، ورور او زوي سترګو پټولو او دوئي ته غسل ورکونکیه! اے مَړي له کفن ورکونکیه او د هغۀ اوچتوونکیه! اے پۀ قبر کښې یواځې پریښودونکیه او واپس

تلونکيه! کاش چې تا ته پته وے چې ته به په زمکه په کوم حال کښې يې؟ کاش! تا ته پته وے چې ستا کوم يو مخ به وړومبے خرابيږي؟ اے په هلاکتونو کښې غورځيدونکيه! ته به (ډير زر) د مَړو سره اوسيږې- کاش چې تا ته معلومه وے چې د دنيا نه د تللو په وخت به ته د ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام سره په کوم حالت کښې ميلاؤيږې؟ او زما د رَبّ به څهٔ پيغام راوړې- د دې نه پس حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هُغه ځائے نه لاړو او د دې نه يوه هفته پس هغوئې وفات شو-

قبر روزانہ یہ کرتی ہے پکار | مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار
یاد رکھ میں ہوں اندھیری کوٹھڑی | تجھ کو ہوگی مجھ میں سُن وَحشت بڑی
میرے اندر تُو اکیلا آئے گا | ہاں مگر اعمال لیتا آئے گا
گُھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا | بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا
جب ترے ساتھی تجھے چھوڑ آئیں گے | قبر میں کیڑے تجھے کھا جائیں گے
قبر میں تیرا کفن پھٹ جائے گا | یاد رکھ نازک بدن پھٹ جائے گا
تیرا اک اک بال تک جھڑ جائے گا | خوبصورت جسم سب سڑ جائے گا (1)

## پينځه ځي او شلور واپس راګرځي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! که مونږه هر څهٔ وکړو، که حقيقت ته مخامخ کيږو او که قصداً سترګې پټې کړو، بهر حال! نهٔ بدليدونکے حقيقت هم دغه دے چې يو نا يو ورځ مونږ ته د دې ځائے نه تلل او په عالمِ برزخ کښې هُم د خپلو اعمالو سره اوسيدل دي- په حديثِ پاک کښې دي: د مړي سره 3 څيزونه ځي، دوه واپس راځي او يو هم د هغهٔ

1…وسائلِ بخشش، صفحه:712711 ملتقطًا-

سره پاتې کیږي۔ (1): د هغهٔ کور والا او بال بچ (2): د هغهٔ مال او (3): د هغهٔ عمل ورسره ځي، بیا مال او کور والا او بال بچ خو واپس راځي خو د هغهٔ عمل هم د هغهٔ سره پاتې کیږي۔[1]

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ہائے | غافِل | وہ | کیا | جگہ | ہے | جہاں |
| پانچ | جاتے | ہیں | چار | پِھرتے | ہیں |

وضاحت: آه! اے غافله--!! غور خو وکړه هغه څومره د عبرت ځائے دے، چرته چې پینځهٔ ځي، یو مړے او څلور اوچتوونکي خو د هلته نه واپس صرف هُم څلور راواپس کیږي، مړے قبر ته کوزولے شي۔

## انسان پهٔ غفلت کښې دے

د صحابئ رسول حضرت جابر بن عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے، د مدینے سرکار، د زړونو قرار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **انسان چې د څهٔ د پاره پیدا کړے شوے دے د هغې نه پهٔ غفلت کښې دے۔** الله پاک چې کله د انسان د جوړولو اراده کوي نو فرښتے ته فرمائي: د دهٔ رزق ولیکه! د دهٔ اعمال ولیکه! د دهٔ مرګ ولیکه! او د دهٔ نیک بختي یا بد بختي هم ولیکه! بیا هُغه فرښته لاړه شي او الله پاک یوه بله فرښته راولیږي کومه چې دغه لیکل پهٔ ښه طریقه محفوظ کړي بیا هُغه فرښته هم لاړه شي او الله پاک پهٔ دغه بنده باندې دوه فرښتے مقررې کړي کومې چې د دهٔ نیکۍ او بدۍ لیکي او چې کله د دهٔ د مرګ وخت راشي نو هُغه فرښتے هم خپل ځائے پریږدي او ملک الموت عَلَیْہِ السَّلَام د هغهٔ د روح قبض کولو د پاره راشي، چې کله هغهٔ پهٔ قبر کښې کیښودلے شي نو د هغهٔ رُوح د وجود طرف ته

1...بخاری، کتاب الرقاق، باب سکرات الموت، صفحه:1599، حدیث:6514۔

واپس کړے شي او د قبر دوه فرښتے (يعنې منکر نکير) د هغۀ د امتحان اخستو د پاره راشي او بيا هغۀ هم لا ړې شي- بيا چې به کله قيامت قائميږي نو نيکئ او بدئ ليکونکې فرښتے به ښکته راکوزې شي او د هغۀ په غاړه کښې غوټه کړے شوے کتاب به برسيره کړي بيا به هغوئي دا بوځي او داسې به حاضرې شي چې يو به قائد او يو به سائِق (چلولو والا) وي- د دې نه پس خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **يقيناً چې ستاسو مخې ته ډېره غټه معامله ده د کومې چې تاسو طاقت نۀ لرئ ځکه د اللّٰه پاک نه مدد غواړئ-** (1)

| | |
|---|---|
| عمل کا ہو جذبہ عَطا یاالٰہی! | گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! |
| میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! (2) |

## دا جنازه د چا ده---؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا سوچ هيڅکله مۀ کوئ چې کله مړه شو، قبر ته کوز شو، نو بيا به کتلے شي، نۀ--!! نۀ! مرګ لرې مۀ ګڼئ! مرګ راتلونکے دے، څۀ پته لګي چې مونږ به د سبا نمر وليدلے شو که نۀ--!! د مرګ په باره کښې چې دا کومې خبر عرض کيږي، دا هم کيدے شي چې اوس هم لا زمونږ سره د ډيرو کلونو ژوند وي او دا هم ممکن ده چې مونږه هم نن قبر ته لاړ شو-

## دا جنازه د چا ده---؟

حضرت ابُو دَردَاء رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کوم چې مشهور صحابي دے، يو ځل چرته جنازه تيريدله، حضرت ابُو دَردَاء رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم د جنازې سره روان وو، په دې کښې يو کس په جنازه کښې

1...حلیۃ الاولیاء،جلد:3،صفحه:221،رقم:3775 ملتقطًا۔

2...وسائلِ بخشش،صفحه:102۔

شريک شو، عام طور داسې کيږي چې کله جنازه تيريږي نو خلق پوښتنه کوي چې دا جنازه د چا ده؟ دې نوي ګس هم پوښتنه وکړه: مَنْ هٰذَا دا څوک دے؟ (يعنې د چا مړے دے؟) حضرت ابُو دَردَاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نصيحت وکړو او اوئې فرمائيل: هٰذَا اَنْتَ فَاِنْ كَرِهْتَ فَاَنَا دا ستا جنازه ده او که پهٔ تا باندې دا خبره بده لګيدلې وي نو داسې ووايه چې دا زما (يعنې د ابُو دَردَاء) جنازه ده- الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّ اِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ﴿۳۰﴾ (پارہ:23، سورۂ زُمر:30) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه تا لره هُم وفات کيدل دي او هغوئي لره هُم مړه کيدل دي- |

مطلب دا چې اے انسانه! دا جنازه د چا ده، دا فِکر پريږده--!! دا سوچ وکړه چې ډير زر به تهٔ او زهٔ هم داسې مړه شو، مونږ له به هم داسې غسل راکړے شي، کفن به راته واچولے شي او هُم دغه شان به پهٔ څلورو اوګو باندې واخستلے شو او تيارهٔ قبر ته به کوز کړے شو-

موت کا دیکھو اعلان کرتا ہوا سُوئے گورِ غریباں جنازہ چلا
کہتا ہے، جامِ ہستی کو جس نے پیا وہ بھی میری طرح قبر میں جائیگا
تم اے بوڑھو سنو! نوجوانو سنو! اے ضَعیفو سنو! پہلوانو سنو!
موت کو ہر گھڑی سر پہ جانو سُنو جلد توبہ کرو میری مانو سنو!
جس کا سنسار میں ہو گیا ہے جنم رب کی ناراضیوں سے بچے دم بہ دم
ورنہ پچھتائے گا قبر میں لا جَرَم ہو گا برزخ میں رنج اُس کو دوزخ میں غم
فلم بِینی کا تم مَشغَلہ چھوڑ دو سارے آلاتِ لَہو و لَعِب توڑ دو
بھائیو! سب گناھوں سے منہ موڑ دو ناتا تم نیکیوں ہی سے بس جوڑ دو

ایک دن موت آکر رہے گی ضَرور | اس کو تم مجرِمو! کچھ سمجھنا نہ دور
بعدِ مُردَن نہ پاؤ گے کوئی سُرور | ایسے ہو جائے گا خاک سارا غُرور(1)

## د دُنيا مثال د شليدلې کپړې په شان دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! خبره واقعي چې رښتيا ده، مونږه اوچتيدونکې جنازې وينو، خلق قبرونو ته په کوزيدو وينو، د هديرې ابادي پرله پسې زياتيږي، زمونږ سره اوسيدونکي، ناسته پاسته کوونکي يو يو د دې دُنيا نه روان دي ځي، وخت زمونږ سره هم ډير نهٔ دے، مرګ بس راتلونکے دے- اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَثَلُ هَذِهِ الدُّنْيَا مَثَلُ ثَوْبٍ شُقَّ مِنْ أَوَّلِهِ إِلَى آخِرِهِ يعني د دې دُنيا مثال د يوې کپړې په شان دے او کپړه هم هُغه کومه چې د سَر نه تر اخره پورې پريکړے شوي وي فَبَقِيَ مُتَعَلِّقًا بِخَيْطٍ فِي آخِرِهِ فَيُوشِكُ ذَلِكَ الْخَيْطُ أَنْ يَنْقَطِع بس په اخره کښې د تار سره انښتې وي، زر ده چې دا تار به هم وشليږي- (2)

يو شاعر ډيره ښکلې عکاسي کړې ده او وئيلي يې دي:

اِک یہ جہاں، اِک وہ جہاں، دونوں جہاں کے درمیاں
ہے فاصلہ اک سانس کا، گر آگئی تو یہ جہاں، گر رُک گئی تو وہ جہاں

دا صرف يو تار خو دے، وړوکے شان تار، کمزورے شان تار--!! چې يو څو منټه آکسيجن ميلاؤ نشي نو ساه ودريږي، ودريږي، ساه بنده شي، بس د دې تار شليدل وي چې بنده د دُنيا نه رُخصت شي- د دُنيا هم دا حقيقت دے-

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:654۔

2 ...موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب قصر الامل، جلد:3، صفحه:332، حدیث:122۔

## معامله د تادۍ ده

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: يوه ورځ ما او زما والد صاحب د کچه خاورو نه جوړ خپل کور ټيک کولو، په دې کښې رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هغه ځائے تيريدلو، نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه: مَاهٰذَا يَاعَبْدَ الله؟ اے عبد الله! دا څۀ کوئ؟ عرض مو وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زمونږه کچه کور لږ کمزورے شوے وو، دا ټيک کوو- اوئې فرمائيل: اَلْاَمْرُ اَسْرَعُ مِمَّا تَرَوْنَ يعنې اے عبد الله! معامله خو د دې نه هم ډيره د تادۍ ده- (1)

دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعليم دے، مونږه د خپلو کورونو ټيک کول او جوړول وغيره هُم کوو، جائز هم دي خو نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې طرف ته پام راوګرځولو چې اے عبد الله! د دې خاورو د کور درسره فِکر دے، دا ټيک کوې، ممکن ده چې د دې د کمزوري کيدو او راغورځيدو نه مخکښې مرګ راشي، دا کور به هم دلته پاتې شي او تۀ به قبر ته کوز شې--! ځکه د کور ټيک کول په خپل ځائے دي خو د دې نه ډير ضروري کار د اخرت تياري ده-

| | |
|---|---|
| آگاہ اپنی موت سے کوئی بشر نہیں | سامان سو برس کا ہے، پَل کی خبر نہیں |
| کُوچ ہاں! اے بے خبر ہونے کو ہے | کب تلک غفلت..! سحر ہونے کو ہے |

## د قبر د وحشت نه بچ کوونکي 8 خيزونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! چې زمونږه په عالَمِ برزَخ کښې راحت او ارام نصيب شي، په قبر کښې زمونږه بدن د خرابيدو نه محفوظ پاتې شي، قبر مو روښانه شي، د هغه

---

1... آداب للبیهقی، باب البناء، صفحه:290، حدیث:879۔

ځائے د تنهايۍ او ويرې نه مو حفاظت وشي، دې د پاره فَقِيه اَبُو لَيث سمر قندي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: بنده له پکار دي چې 4 کارونه اختيار کړي او د 4 کارونو نه ډډه وکړي- څوک چې داسې کوي هغۀ به (د الله پاک پۀ فضل او کرم سره) د قبر د تنهايۍ او د ويرې نه بچ شي-

**4 کارونه کوم چې اختيارول پکار دي:** (1): نـمونځ (2): صدقه (3): تلاوت (4): د ذِکرُ الله کثرت-

**4 کارونه د کومو نه چې ډډه کول دي:** (1): دروغ (2): خيانت (3): چغلي (4): د مِتيازو دارې- (1)

## پۀ قبر کښې پکار راتلونکے وړومبے نيک عمل: نـمونځ

هُغه اعمال کوم چې به پۀ قبر کښې پکار راځي پۀ هغې کښې وړومبے عمل دے: نـمونځ- د الله پاک د خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د نـمونځونو د پاره پۀ بهتره طريقه اودس وکړي، پۀ وخت باندې نـمونځ وکړي، رکوع او سجده پۀ خشوع و خضوع سره پوره کړي، د الله پاک پۀ ذِمّۀ کرم باندې دي چې الله پاک د هغۀ مغفرت وکړي- (2)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نـمونځ ډير اعلیٰ عبادت دے ❁ نـمونځ د دِين ستن ده ❁ نـمونځ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم د سترګو يخ والے دے ❁ نـمونځ د الله پاک پۀ بارګاه کښې د حاضرۍ ذريعه ده ❁ نـمونځ د مؤمِن معراج دے ❁ نـمونځ الله پاک ته د نزدې کيدو وسيله ده ❁ نـمونځ کوونکي ته د الله پاک مدد او نصرت ميلاؤيږي ❁ نـمونځ ګناهونه ورانوي ❁ نـمونځ رُوح ته سکونورکوي ❁ نـمونځ

---

1...تنبيه الغافلين، صفحه:19۔

2...ابوداؤد، کتاب الصلاة، باب المحافظة على وقت الصلوات، صفحه:82، حديث:425۔

ظاهر او باطن ښکلي کوي ❀ نـمونځ په رزق کښې برکتونه راولي ❀ نـمونځ به په قبر کښې پـکار راځي ❀ نـمونځ به د قبر د ویرې او د قبر د عذاب نه بچ کوي۔

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے بَرتَر عبادت نَماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز |
| قلبِ غمگیں کا سامانِ فَرحت نَماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صِحَّت نَماز |
| نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | رب سے دلوائے گی تم کو جنَّت نَماز |
| پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ | قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نَماز |
| بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہئے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نَماز |

راځئ چې نیت وکړو چې د نن نه پس به مونږه یو نـمونځ هم نۀ قضا کیږي، مونږ به پینځه واړه نـمونځونه په جومات کښې د جمعې سره ادا کوو، خدائے دې نکړي که مخکښې رانه څۀ نـمونځونه قضا شوي وي نو هغۀ به هم زر تر زره ادا کړو۔ اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم!

## پۀ قبر کښې پکار راتلونکے دویم نیک عمل: صدقه

د قبر تیارۀ پۀ رڼا کښې او وحشت پۀ امن او سکون کښې بدلولو والا دویم عمل دے: صدقه او خیرات۔ د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ عَلٰی اَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُوْرِ بے شکه چې صدقه د قبر ګرمي سړوي۔ (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د قبر د ګرمۍ او د وحشت نه د بچ کیدو د پاره د صدقې او د خیرات عادت جوړ کړئ! بے شکه صدقه (یعني د الله پاک پۀ لار کښې څۀ ورکول) ډیر د فضیلت والا کار دے ❀ صدقه د ګناهونو دروازې بندوي ❀ صدقه د قبر د

1 ...شُعَبُ الایمان، باب الزکاة، جلد:3، صفحه:212، حدیث:3347۔

ګرمۍ نه بچ کول کوي ❁ صدقه ګناهونه داسې ورانوي لکه څنګه چې اوبه وور مړ کوي ❁ صدقه بلاګانې منع کوي ❁ صدقه په عمر کښې د برکت سبب دے ❁ صدقه د بد مرګ نه بچ کول کوي ❁ صدقه د الله پاک غضب سړوي ❁ د صدقې کولو سره په رزق کښې برکت راځي ❁ صدقه او خيرات غريبي ختموي ❁ صدقه د الله پاک د رحمت ذريعه ده- څکه په ننۍ دې برکتي شپه کښې د صدقې او د خيرات کولو ښه نيت هم وکړئ! که زکوٰة درباندې فرض وي نو د ټول زکوٰة د ادا کولو نيت وکړئ، د صدقهٔ فطر [يعنې د سر سايه] د ورکولو نيت وکړئ، د دې نه علاوه نفلي صدقې هم ورکول پکار دي، څوک چې غريبانان دي، امدن يې کم دے، هغوئي له هم پکار دي چې څهٔ نا څهٔ صدقه ضرور کوي، که هغه يوه روپۍ ولې نهٔ وي کوي دې، بهر حال هُم صدقه کول پکار ده-

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه په زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ په نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ تقريباً د 16500 نه زيات جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** ماشومانو د پاره قائم دي، په کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره څه کم يا زياته 5 لاکهه 30 زره ده ❁ د زيات عمر اِسلامي ورونړو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً د 74 زره 887 مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي په کومو کښې چې د لوستونکو شميره د 4 لاکهه 26 زره نه زياته ده ❁ د فيضان آن لائن اکيډمۍ په ذريعه

تقريباً 24 زره طالبِ علمان ديني تعليم حاصلوي ❁ اوسه پورې تقريباً **21 دار الافتاء اهلسنت** جوړ کړے شوي دي په کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې **اوسطاً 20 زره** ده ❁ د **الـمدينةُ العلميه** ***(Islamic Research Center)*** په ذريعه په ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دې شعبے لاندې اوسه پورې په **1784 کتابونو او رسالو** باندې کار شوے دے، په دې شعبه کښې کُڼ شمير مَدَني علمائے کرام فريضې ترسره کوي، د الله پاک په کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګانې ورکوي ❁ د ديني لټريچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره **مکـتبة الـمدينه** جوړه کړې ده، چرته چې په بهترين او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسيمِ رسائل (يعنې د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسيمولو) سلسله هم وي ❁ په ټوله دُنيا کښې د ديني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُورٰی پورې يو نظام جوړ دے، ښار په ښار، کلي په کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول تربيت کولے شي او دوئي د ديني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (يعنې د ګټې نه بے پروا) کيدو سره د دِين خدمت کوي ❁ د ميډيا مختلف پليټ فارمز، مثلاً ❁ پرنټ ميډيا (يعنې ماهنامه فيضانِ مدينه کومه چې دا وخت **په 7 مختلفو ژبو کښې** چاپ کيدونکې کثير الاشاعت مياشتنی [يعنې ماهنامه] ده ددې په ذريعه) ❁ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب(***YouTube***)، فيس بک(***Facebook***)، انسټاګرام(***Instagram***)وغيره باندې موجود تقريباً 100 اکاؤنټ، په کومو باندې چې)تقريباً 50 ملين(***Million***)يعنې 5 کروړه فالورز (***Followers***)دي او د ويوز شميره د بلينز (***Billions***)يعنې د 100 کروړه نه هم زياتو پورې رسيدلې ده- ❁ د دې نه علاوه د مَدَني چينل اُردو، انګلش،

بنګله ژبو کښې، کِډز (**Kids**) مَدَني چینل، د مشرانو د پاره مَدَني چینل او د عربۍ د ویب چینل په ذریعه د دِین اِسلام خدمت کولے شي ❁ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې **32 موبائل ایپلي کیشن** او **40 اِسلامک ویب سائټس** جوړ کړے شوي دي ❁ په ټوله دُنیا کښې د مسلمانانو د خیر خواهۍ د پاره د ایف جي آر ایف (***Faizan Global Relief foundation***) شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې ❁ **34 لاکهه 16 زره 673** وَنې نالې کړے شوې دي ❁ تقریباً د **76 لاکهه 82 زره 958** ګسانو امداد شوے دے ❁ **5 زره 566** کورونه جوړ کړے شوي دي ❁ **75 زره 721** د وینې ډراپونه عطیه کړے شوي دي ❁ هیلتهـ کئیر سنټر ته اوسه پورې د **61 زره 667** مریضان راغلي دي۔

**تاسو هم د دین د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هرقِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خیر ښیګړې په کارونو کښې لګیدے شی د پاره د دې چې زیاتیدونکې خرچې پوره کړے شي۔**

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په قبر کښې پکار راتلونکے دریم نیک عمل: د قرآنِ پاک تلاوت

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په قبر کښې پکار راتلونکو نیک اعمالو کښې دریم نیک عمل دے: د قرآنِ کریم تلاوت۔ ❁ قرآنِ کریم د الله پاک کلام دے ❁ د قرآنِ کریم د تلاوت سره رحمت نصیب کیږي ❁ د تلاوت په برکت سره مصیبت لرې کیږي ❁ د تلاوت په برکت سره غم لرې کیږي ❁ تلاوت کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ تلاوت کول د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم طريقه ده ❁ تلاوت د قيامت د وحشت نه بچ کول کوي ❁ او د تلاوت پهٔ برکت سره قبر روښانه کيږي۔

## واه څومره ښکلے شان دے د قرآنِ پاک د عاشق

حضرت ثابِت بُناني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به روزانه يو ځل د قرآنِ کريم ختم کولو۔ هغوئي به هميشه د ورځې روژه نيوله او ټوله شپه به يې قيام (عبادت) کولو، پهٔ کوم جومات باندې چې به تيريدلو نو پهٔ هغې کښې به يې دوه رکعته (تَـحِيَّةُ الـمَسجِد) ضرور کول۔ د نـمونځ او د قرآنِ پاک د تلاوت سره د هغوئي خصوصي محبت وو، پهٔ هغوئي باندې داسې کرم وشو چې سرے ورته پسخيږي - **منقول دي:** چې کله به خلق د هغوئي د مزار مبارک پهٔ خوا تيريدل نو د قبر مبارک نه به د قرآنِ پاک د تلاوت اواز راتللو۔ [1]

جَبِیں مَیلی نہیں ہوتی دَہن مَیلا نہیں ہوتا | غلامانِ مُحَمَّد کا کفن مَیلا نہیں ہوتا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نيت وکړئ چې د قبر د وحشت او تنهايي نه د بچ کيدو او د نيکو کټلو د پاره به مونږه هم د قرآنِ کريم تلاوت کوو۔ د رَمَضَانُ المُبَارَک مياشت هم تشريف راوړونکې ده، دا ځل پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د ټول قرآنِ کريم د لوستلو نيت وکړئ! بلکې يو ځل ولې؟ 5 ځله د قرآنِ کريم ختم وکړئ! اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک شريف کښې 61 کرته د قرآنِ کريم ختم کولو۔ څوک چې کولے شي هغهٔ دې پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د قرآنِ کريم پهٔ ډير ډير تلاوت کښې مصروف اوسي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

1 ... حلية الاولیا، جلد:2، صفحه:364و366، ملتقطاً۔

صرف برکتونه به يــې نصيب کيږي- د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف د راتللو نه مخکښې هم تلاوت کول پـکـار دي، هم د نن نه تلاوت شروع کړئ- الله پاک دې مونږ ټولو ته توفيق راعطا کړي، کاش چې د قرآنِ او د قرآنِ پاک د تلاوت سره داسې محبت وي چې ټول فضوليات پاتې شي او مونږه صرف هُم د قرآنِ پاک پاتې شو- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

یہی ہے آرزو تعلیم قرآں عام ہوجائے | تلاوت کرنا میرا کام صبح و شام ہوجائے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تراويح د نـمونځ کولو فضائل

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِله! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت راتلونـکې ده، د روژو او د پيشمني او روژه ماتي سره سره به د تراويح سپرلي هم وي، حافظان صاحبان به پۀ تراويح کښې د قرآنِ کريم د تلاوت کولو سعادت حاصلوي او خوش قِسمته عاشقانِ رسول به د قرآنِ کريم تلاوت اوري او ثوابونه به ګټي- الله پاک دې زمونږه پۀ خير او عافيت سره رَمَضَانُ الْمُبَارَک ته رسيدل نصيب کړي، چې مونږه روژې هم ونيسو، تلاوت هم وکړو او ښه پۀ ذوق او شوق سره تراويح هم ادا کړو- د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې پۀ رمضان کښې د ايمان سره او د ثواب د طلب د پاره قيام وکړي (مثلاً تراويح وکړي)، د هغۀ تير (صغيره) ګناهونه به اوبخښلے شي- [1] پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: بے شکه الله پاک د رمضان روژې پۀ تاسو باندې فرض

1...مسلم، کتاب صلاۃ المسافرين، صفحه:275، حديث:759-

کړي او ما ستاسو د پاره د رمضان قيام سُنَّت کړځولے دے ځکه چې کوم کَس پۀ رمضان کښې روژې اونيسي او د ايمان سره او د ثواب پۀ نيت قيام وکړي (يعني تراويح وکړي) نو هغۀ د خپلو ګناهونو نه داسې ووتو لکه څنګه چې خپلې مور هغۀ زيږولے وو-[1]

ياد ساتئ چې تراويح پۀ نارينه او زنانه ټولو باندې بالاجماع سُنَّتِ مؤکده دي-[2] پۀ دې کښې دې هيڅکله سستي اونۀ کړے شي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ قبر کښې پکار راتلونکے خلورم نيک عمل: د الله پاک ذِکر

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! فقيه ابو الليث سمر قندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې پۀ قبر کښې پکار راتلونکي کوم 4 اعمال وښودل، پۀ دې کښې خلورم عمل دے: د ذِکرُ الله کثرت کول- دا ډير ښکلے او د فضيلت والا نيک عمل دے- زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله هم خلق د ذِکرُ الله د پاره جمع کيږي نو فرښتے هغوئي په خپلو وزرو کښې راپټ کړي، د الله پاک رحمت هغوئي پۀ غيږه کښې اخلي او پۀ هغوئي باندې سکينه نازليږي-[3]

د ذِکرُ الله د کثرت کولو ډيرې فائدې دي ❁ د ذِکر د کثرت سره پۀ زړۀ کښې نُور پيدا کيږي ❁ د ذِکر د کثرت سره د الله پاک قرُب نصيب کيږي ❁ د ذِکر د کثرت سره ګناهونه ورانيږي ❁ د ذِکر کثرت د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام سُنَّت دي ❁ د ذِکر د کثرت سره د

---

1...نسائی، کتاب الصیام، صفحہ:369، حدیث:2207۔

2...بہارِ شریعت، جلد:1، صفحہ:688، حصّہ:4۔

3...مسلم، کتاب الذکر و الدعا، باب فضل الاجتماع علی تلاوۃ، صفحہ:1039، حدیث:2700۔

زړونو نه زنګ لرې کيږي ❁ د ذِکر د کثرت سره په دُنيا کښې امن نصيب کيږي ❁ او د ذِکر د کثرت په برکت سره به قبر روښانه کيږي۔

کاش لب پر مرے رہے جاری | ذکر آٹھوں پہر ترا یاربّ!

## په قبر کښې نقصان رسوونکي 4 اعمال

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا 4 نيک اعمال (نـمونځ، صدقه، تلاوت او د ذِکرُ الله کثرت، دا هٔغه اعمال دي کوم چې) په قبر کښې پکـار راځي، قبر روښانه کوي او د قبر د عذاب نه بچ کول کوي۔ د فقيه ابو الليث سمر قندي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د بيان مطابق 4 بد اعمال هٔغه دي کوم چې د قبر د عذاب سبب جوړيږي، څوک چې په قبر کښې د سلامتۍ خواهش لري نو په هغهٔ باندې لازم دي چې د هرې ګناه نه او خاص طور د دې څلورو ګناهونو نه ځان لازمي بچ کړي۔

## په قبر کښې د سلامتۍ د پاره د دروغو نه ځان بچ ساتئ!

وړومبے بد عمل دے: دروغ۔ صادق او امين نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: دروغ د ګناه طرف ته بوتلل کوي او ګناه دوزخ ته د بوتللو سبب دے۔ بے شکه بنده دروغ وائي، تر دې پورې چې د الله پاک په نزد هغهٔ کذّاب (لوئي دروغژن) وليکلے شي۔ (1)

د دروغو د تعريف، د دې د مثالونو او د عذابونو نه د ځان خبرولو د پاره د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه رساله جهوٹا چور ولولئ۔

1...بخاری، کتاب الادب، صفحه:1515، حديث:6094۔

## پهٔ قبر کښې د سلامتۍ د پاره د خيانت نه ځان بچ ساتئ!

پهٔ قبر کښې نقصان رسوونکے دويم بد عمل دے: خيانت- يعنې د چا پهٔ کېښودلے شوي امانت کښې ناجائزه رد و بدل کول يا امانت نهٔ واپس کول- د حضرت مجاهد رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه روايت دے: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: دوکه او خيانت پهٔ وور کښې دي، دوکه کول او خيانت کول د مؤمِن اخلاق نهٔ دي- (1)

جو دُکانیں خِیانت سے چمکائیں گے! | کیا اُنہیں زر کے اَنبار کام آئیں گے؟
قہرِ قَہّار سے کیا بچا پائیں گے؟ | جی نہیں، نارِدوزخ میں لے جائیں گے
مالِ دنیا ہے دونوں جہاں میں وبال | آئیگا قبر میں ساتھ ہرگز نہ مال (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ قبر کښې د سلامتۍ د پاره د چغلۍ نه ځان ساتئ!

د قبر عذاب جوړيدونکې دريمه ګناه چغلي ده- د فساد جوړولو د پاره د يو کس خبره بَل کس ته رسولو ته چغلي وئيلے شي- (3) د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چغلي کوونکې به الله پاک (د قيامت پهٔ ورځ) د سپو پهٔ شکل کښې پاڅوي- (4)

مجھے غیبت و چغلی و بدگمانی | کی آفات سے تُو بچا یااِلٰہی!

1... الجامع لابن وہب، صفحه:587، حديث:487۔

2... وسائلِ بخشش، صفحه:655۔

3... شرح مسلم للنووی، جلد:1، صفحه:12۔

4... الجامع فی الحديث، باب العزلة، صفحه:534، حديث:428۔

## په قبر کښې د سلامتۍ د پاره پاک اوسئ

په قبر کښې نقصان رسوونکے څلورم بد عمل دے: **د مِتیازو د دارو نه نۀ بچ کیدل**- د الله پاک د رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اکثر د قبر عذاب د مِتیازو (د دارو نه د نۀ بچ کیدو) په وجه وي- (1)

## د بیان خُلاصه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** الله پاک دې مونږه د قبر د عذاب نه **محفوظ** کړي- په عالَمِ برزخ کښې د راحت او د ارام موندلو، د قبر د تنګ والي او د وحشت نه د بچ کیدو د پاره مونږه ټول 8 کارونه واوریدل- **په دې کښې 4 کارونه اختیارول دي**: (1): د نمونځ پابندي کول دي (2): د صدقې او خیرات عادت جوړول دي (3): په کثرت سره تِلاوت کول دي (4): د ذِکرُ الله کثرت کول دي- **او د 4 کارونو نه بچ کیدل دي**: (1): دروغ نۀ دي وئیل (2): خیانت نۀ دي کول (3): د چغل خورۍ نه بچ کیدل دي او (4): د مِتیازو د دارو نه بچ کیدل دي- چې دا 8 کارونه کوو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د الله پاک په رحمت سره به د قبر د عذاب نه **محفوظ** شو- الله پاک دې په مونږ ټولو باندې رحم وکړي! کاش چې په نننۍ برکتي شپه باندې مونږ ټول د بخښنې او مغفرت په خیرات موندلو کښې کامیاب شو-

خطاؤں کو میری مٹا یاالٰہی! | مجھے نیک خصلت بنا یاالٰہی!
تجھے واسطہ سارے نبیوں کا مولیٰ | مری بخش دے ہر خطا یاالٰہی!

## د رمضان د روژو فضائل

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! بیا د رَمَضَانُ الْمُبَارَک میاشت راتلونکې ده، د نیکو د سپرلي موسم را روان دے- راځئ چې د ترغیب د پاره د رَمَضَانُ

---

1 ...ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب التشديد في البول، صفحه:69، حديث:348-

الْمُبَارَک د روژو او اعتکاف يو څو فضيلتونه واورو: **د مختلفو روايتونو مطابق** ❁ د روژه نيوونکي اوده کيدل عبادت دے ❁ د روژه نيوونکي دُعا او عمل مقبول وي ❁ د روژه نيوونکي د پاره فرښتې د نمر پريوتو پورې د بخښنې دُعا کوي ❁ د روژه نيوونکي د پاره د اسمان دروازې کولاوهلے شي ❁ په روژه نيوونکي باندې به الله پاک جنّتي ميوې خوري ❁ په روژه نيوونکي به الله پاک جنّتي شراب څښبي ❁ د روژه نيوونکي د پاره به د قيامت په ورځ د سرو زرو دسترخوان غوړولے شي ❁ د روژه نيوونکي روژه به د تيرو ګناهونو کفاره جوړه شي ❁ د روژه نيوونکي مخ به الله پاک د دوزخ نه د 70 کاله په مزل لرې کړي- (1)

کوم نادانه چې د څه شرعي مجبورۍ نه بغير د رمضان روژې پريږدي هغه ډير ګنهګار او د وور د عذاب حقدار دے- د روايتونو مطابق څوک چې د شرعي مجبورۍ نه بغير د رَمَضَانُ الْمُبَارَک يوه روژه ضائع کړي نو بيا که ټول عمر روژې ونيسي، نو بيا هم د هغه پريښودلے شوې يوې روژې فضيلت نشي موندلے- (2)

الله پاک دې د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله مونږه د خپل قهر او غضب نه بچ کړي، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې د ټولو روژو د زړه د خوشحالۍ نه، په ذوق او شوق سره د نيولو توفيق دې راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

## د اعتکاف يو څو فضيلتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي په ديني ماحول کښې په ټوله دنيا کښې په زرګونو ځايونو کښې اجتماعي اعتکاف کولے شي، اعتکاف د ګناهونو نه د بچ کيدو او د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت په نيکو کښې د تيرولو بهترينه ذريعه ده، د اوس

1...فيضانِ رمضان، صفحه:84 تا 86 ماخوذاً-

2...فيضانِ رمضان، صفحه:88 تا 89 ماخوذاً-

نه د روژې په تږوله میاشت کښې یا کم نه کم په اخري عشره کښې په اجتماعي اعتکاف کښې د شرکت کولو نیت وکړئ! ✿ د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صدیقه طیبه، طاهره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا نه روایت دے: مَنۡ اِعۡتَکَفَ اِیۡمَانًا وَّاحۡتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنۡ ذَنۡبِهٖ یعنې چا چې د ایمان سره او د ثواب حاصلولو په نیت اعتکاف وکړو د هغهٔ تیر ګناهونه به اوبخښلے شي۔ [1] ✿ **په یو حدیثِ پاک کښې یې فرمائیلي دي:** چا چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې 10 ورځې اعتکاف وکړو هغهٔ داسې دے لکه چې 2 حجونه او 2 عُمرې یې وکړې۔ [2]

په پاکستان کښې به ښکال په 29 ځایونو کښې د ټولې رمضان د میاشتې اعتکاف کولے شي۔ د خپل ښار د ذمه دارانو نه د دې معلومات حاصل کړئ او هم اوس د اعتکاف فارم جمع کړئ۔

| | |
|---|---|
| آئیں گی سنّتیں جائیں گی شامتیں | دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف |
| تم سدھر جاؤ گے، پاؤ گے برکتیں | دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف |
| فضلِ رب سے ہدایت بھی جائے گی مل | دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف |
| مرضِ عصیاں سے چھٹکارا چاہو اگر | دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف |
| مان بھی جاؤ عطّار کی التجا | دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف |
| ہو گا راضی خدا خوش شہِ انبیا | دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف (3) |

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

---

1...جَامِع صغِير، صفحه:516، حديث:8480۔

2...جَامِع صغِير، صفحه:516، حديث:8479۔

3...وسائلِ بخشش، صفحه:639۔645 ملتقطاً۔

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: دَرس

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! په اوسني د فتنو نه په ډک وخت کښې د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د نيکۍ په دعوت ورکولو او د اُمَّت د نيک نـمونځ ګزاره جوړولو په کوشش کښې مصروف دے، تاسو هم د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ، د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دنيا او د اخرت بے شميره خيرونه به مو نصيب شي- د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دَرس هم دے، درس ورکول يا اوريدل په نيک اعمال (رساله) کښې يو نيک عمل هم دے، تاسو هم په دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ✿ د عِلمِ دِين زده کولو موقع به درنصيب کيږي ✿ په نيک صحبت کښې به پاتې کيدل درنصيب کيږي ✿ که د کور نه په درس کښې د شرکت کولو په نيت سره ځئ نو د عِلمِ دِين په لاره کښې د تللو ثواب به درته ميلاويږي ✿ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! مخلوقات تر دې پورې چې په درياب کښې مهيان [کبان] به هم [ستاسو د پاره] دعاګانې کوي-

## د هوټل ښکلا جوړيدونکے ځلمے

د حيدر آباد، سندھ اوسيدونکے يو اسلامي ورور خپله واقعه څهٔ داسې بيانوي: زهٔ په ګناهونو کښې داسې اخته ووم چې زما سره د خپل ژوند د قيمتي وختونو د بربادېدو هډو فِکر نهٔ وو، د معمول مطابق ءغه ورځ هم زهٔ په هوټل کښې موجود ووم او په ټي وي کښې په چليدونکو فلمي نظارو کښې ورک ووم چې په دې کښې د سُنَّتو مطابق جامې اغوستې يو اسلامي ورور زما خوا له راغلو او په ګرم جوشۍ سره يـې زما سره د لاس ميلاوهلو نه پس ما ته ووئيل: ورور جانه بهر چوک درس کيږي- تاسو يو څو منټه راکړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډيرې نيکۍ به حاصلې کړئ- زهٔ د هغوئي د ښو اخلاقو او عاجزۍ نه ډير

متاثره شوم او سمدستي ورسره روان شوم- د هوټل نه بهر يو اسلامي ورور د **فيضانِ سنّت** نه درس ورکولو، د نورو اسلامي ورونړو په شان زۀ هم په درس اوريدو کښې مصروف شوم، درس چې مې واوريدو نو زما په زړۀ يــې ډېر زيات اثر وکړو، ما د زړۀ د اخلاصه توبه کړه او د اسلامي ورونړو صحبت مې اختيار کړو، د دې په برکت به ماته کله د سُنتو په اجتماع کښې د شرکت سعادت، نو کله به راته په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره سفر نصيب کيدلو- په ورو ورو زۀ ديني ماحول ته نزدې کيدم، اخر د هوټلو ښکلا جوړيدونکے ځلمے د درس په برکت نن اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقان رسول سره په جومات کښې شپې تيرولو والا جوړ شو- (1)

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خدا مَدنی ماحول | ہے فَیضانِ غوث و رضا مَدنی ماحول |
| سَنور جائے گی آخرت ان شاء اللہ | تم اپنائے رکّھو سدا مَدنی ماحول (2) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نـمونځونو د وختونو (Prayer Times) د ايپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کيشن د نـمونځونو د وختونو *(Prayer Times)* په نوم جاري کړے دے ❀ د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلوميدے شي ❀ د جُمعې په وخت د موبائل آټو سائلنټ کولو آپشن هم موجود دے ❀ د دې نه علاوه د قرآنِ پاک د عربي متن او د ترجمے او تفسير سره د لوستلو او اوريدو سهولت پکښې هُم موجود دے ❀ اذکار (روحاني علاج) پکښې هم ورکړے شوي

1...میں نے ویڈیو سینٹر کیوں بند کیا، صفحہ:12 ملخصًا۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:646 ملتقطاً۔

دي ❀ د کاؤنټر تسبيح په ذريعه تاسو خپل روزانه اوراد لوستلے شئ ❀ د دې ايپلي کيشن په ذريعه تاسو ريډيو مَدَني چينل اوريدے شئ ❀ د نـمونځ اذکار پـکښي هم د تجويد سره شامل کړے شوي دي ❀ د عيسوي او اِسلامي کلينډر (*Calendar*) سهولت پـکښي هم موجود دے- ❀ د دې نه علاوه تاسو د دې ايپلي کيشن ډيش بورډ (*Dashboard*) په 2 کلر تهيم کښي هم استعمالولے شئ- ❀ د **نيوز فيډ** فيچر په ذريعه، د قرآنِ کريم تفسير، د حديثِ پاک تشريح، د علمائے کرامو نصيحتونه، عِلمي ويډيوز، معلوماتي پوسټونه، او دِيني کتابونه وغيره لوستلے کيدے شي ❀ نور دا چې د قضاء نـمونځونو د ادا کولو د پاره د کاؤنټر چاټ سهولت هم موجود دے- هم نن دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ، د دې سهولتونو نه ځپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکـې هفتې په ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس به (تقريباً 8:30 بجې) په مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښي چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښي ځپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ ❀ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې **دِيني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکـې هفته واره مَدَني مذاکره کښي به "**د بے نمانځه سزاګانې**" رسالې اعلان کولے شي- دا رساله

پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي!

شعبان شريف د **الله** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مياشت ده، د دې مياشتې د فضائلو او برکتونو او عباداتو په باره کښې معلوماتو د پاره امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **آقا کا مهينا** او اديرې [مقبرې] ته د تللو په آدابو مشتمله رساله **قبر والوں کی 25 حکايات** ليکلې ده. دا رسالې پخپله هُم ولولئ او نورو ته هُم ترغيب ورکړئ ❀امیرِ اہلسنت مولانا محمد الياس عطارقادری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هر کال په شعبان شريف کښې د پوره **فيضانِ رمضان** لوستلو ترغيب ارشاد فرمائيلے دے ټول اسلامي ورونړه د دې کتاب د لوستلو نِيَّت هُم وکړئ، د مکتبةُالمدينه د هر شاخ نه دا په **660 روپۍ** په بيعه حاصِل کړئ يا يې د دعوتِ اسلامی د ويب سائټ ***www.dawateislami.net*** نه ډاؤن لوډ کړئ، او نورو ته هُم ترغيب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علىٰ مُحَمَّد

## د مسلمان قبر له تلل سُنّت دي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** پۀ شَبِ بَرَاءَت کښې هديرې ته حاضرې د مسلمانانو معمول دے، ځکه بيان د اختتام پۀ لور بوځو او د هديرې د آدابو بيانولو سعادت حاصلوو- راځئ چې ورومبے د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک واورو: **د اِبنِ ماجه حديثِ شريف دے:** د الله پاک خوږ او اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ، فَزُوْرُوهَا فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا، وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ يعنې ما تاسو د قبرونو د زيارتونو نه منع کړې وئ اوس تاسو د قبرونو زيارت کوئ ولې چې بے شکه قبرونه ليدل

د دُنیا نه بے رغبته کول کوي او اخرت رایادوي۔ (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! ❁ د مسلمان قبر له تلل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي او د اولیائے کرامو او شهیدانو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم مزارنو ته حاضري سعادت دے او دوئي ته ایصالِ ثواب کول مَندُوب (یعني خوښ) او د ثواب کار دے۔ (2) ❁ پۀ هدیره کښې داسې ودریږئ چې د قبلې طرف ته شا او د قبرونو والؤ د مخونو طرف ته مخ وي، د دې نه پس پۀ حدیثِ پاک کښې د بیان کړے شوې طریقې مطابق داسې سلام وکړئ: اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ یَا اَھْلَ الْقُبُوْرِ یَغْفِرُ اللہُ لَنَا وَلَکُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَر یعني اے قبر والؤ! پۀ تاسو باندې دې سلام وي، اللہ پاک دې مونږه او تاسو اوبخښي، تاسو زمونږ نه مخکښې راغلی او مونږ پۀ تاسو پسې وروستو در روان یو۔ (3) ❁ هدیرې ته چې داخل شئ نو دا دُعا لولئ: اَللّٰھُمَّ رَبَّ الْاَجْسَادِ الْبَالِیَۃِ وَالْعِظَامِ النَّخِرَۃِ الَّتِیْ خَرَجَتْ مِنَ الدُّنْیَا وَھِیَ بِکَ مُؤْمِنَۃٌ اَدْخِلْ عَلَیْھَا رَوْحًا مِّنْ عِنْدِکَ وَسَلَامًا مِّنِّی (ترجمه: اے اللہ! د خرابیدونکو بدنونو او د وراستو هډوکو رَبَّه! څوک چې د دُنیا نه د ایمان پۀ حالت کښې رخصت شول تۀ پۀ هغوئي باندې خپل رحمت نازل کړې او هغوئي ته زما سلام ورَسَوې۔)

پۀ شَرحُ الصُّدُور کښې دي: څوک چې هدیرې ته داخل شي او دا ولولي، نو د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه واخله تر د دُعا لوستلو وخته پورې چې څومره مسلمانان وفات شوي دي ټول به د دُعا کوونکي د پاره د بخښنې دُعاګاني کوي۔ (4) ❁ که د قبر پۀ خوا کښې کښیناستل غواړئ نو د قبر والا د مرتبې خیال وساتئ او پۀ ادب سره کښینئ ❁ د قبرونو د

1…ابن ماجه، کتاب جنائز، باب ماجاء فی زیارۃ القبور، صفحه: 252، حدیث: 1571۔

2…فتاوٰی رضویه، جلد: 9، صفحه: 532۔

3…ترمذی، کتاب: جنائز، صفحه: 275 حدیث 1053۔

4…شَرحُ الصُّدُور، الباب الثامن و الثلاثون…الخ، صفحه: 160۔

زيارت د پاره څلور ورځې بهترې دي: ګل، زيارت، جُمعه، خالي (1) ❀ د جُمعې په ورځ د سحر د نـمونځ نه پس د قبرونو زيارت افضل دے (2) ❀ د شپې هديرې ته يواځې تلل نه دي پکار (3) ❀ د برکت والا شپو خصوصاً په شَبِ بَرَاءَت کښې د قبرونو زيارت افضل دے (4) ❀ هُم دغه شان د برکت والا ورځو مثلاً وړوکے اختر، غټ اختر، لسم محرم، د ذُو الحجې په وړومبو لسو ورځو کښې د قبرونو زيارت افضل دے (5) ❀ د قبر د پاسه ''ګر باتئ'' مۀ لګوئ ولې چې په دې کښې بے ادبي او بد فالي ده، آؤ که چرې (حاضريدونکو ته) د خوشبو (رسولو) د پاره يـې (لګول غواړئ نو) د قبر سره خوا کښې که خالي ځائے وي نو هلته يـې ولګوئ چې خوشبو رَسَوَل خوښ عمل دے (6) ❀ د قبر په خوا کښې ډيوه يا بَله شمع وغيره مۀ ږدئ، خو که ستاسو سره ''چارجر'' ټارچ يا ټارچ والا موبائل فون نۀ وي، سرکاري رڼاګانې هم نۀ وي يا د خلقو او د شپې په تيارۀ کښې د تلونکو يا د قرآنِ کريم د لوستلو د پاره رڼا مقصد وي نو د قبر په خوا کښې په خالي زمکه باندې شمع يا ډيوه کيښودے شئ، خو چې هغه خالي ځائے داسې نۀ وي چرته چې مخکښې قبر وو او اوس وران شوے وي۔ (7)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر

---

1…عالمگیری، کتاب الکراہیة، الباب السادس عشر فی زیارۃ القبور…الخ، جلد:5، صفحه:430۔

2…فتاوٰی رضویه، جلد:9، صفحه:523۔

3…فتاوٰی رضویه، جلد:9، صفحه:523۔

4…عالمگیری، کتاب الکراہیة، الباب السادس عشر فی زیارۃ القبور…الخ، جلد:5، صفحه:430۔

5…عالمگیری، کتاب الکراہیة، الباب السادس عشر فی زیارۃ القبور…الخ، جلد:5، صفحه:430۔

6…فتاوٰی رضویه، جلد:9 صفحه: 483525 ملخصاً۔

7…قبر والوں کی 25 حکایات، صفحه:47۔

16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خُدا | چاہیے گر تمہیں قافلے میں چلو
عِلْم حاصِل کرو! جَہْل زائِل کرو! | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

1 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

1 ... القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴾1﴿ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

---

1 ... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2 ... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

3 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حدیث:۱۷۳۰۵

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/ ۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵